انجمن اجتماعي زحمتكشان افغانستان

۱۰ مى ۲۰۱۱

## په هیواد کې د بی کارئ کړکیچ

ويل کېږي چې په هېواد کې ٦٠ سلنه وګړي د فقر لـه ليکـي لانـدې ژوند کوي چـې عايد يـې د يو ډالـر (۴۵ افغانۍ) څخه ټيټ دی، دا په دې معنی چی ۱۵ مليونه افغانان په دې نه توانيږي، چې د ژوندانه لومړنيو اړتيـاوو تـه لاسرسی پيدا کړي.

که چيرې د ښارونو سړکونو او څلورلارو ته ځير شو، نو په زرګونه خلک به تر سترګو شي، چـې د مناسب کار د نشتوالي لـه املـه يـا پـه څلور لارو کـې د دې لپاره دريږي چـې څوک بـه يـې د کـار لپـاره بـوځي او يـا هـم د سړکونو په سر ولاړ، موبايل کارتونه يي پـه لاس او د پلورلـو لـه خـاطره پـه يـو او بـل مـوټر پسـي ټولـه ورځ منـډې وهي.

د موبايل کريډټ کارت پلورنکي چې ډېری يي ځوانـان دي، پـه دغـه کسب کـې د کمـي ګټـي بـاوجود بيـا هـم د کار او روزګار د نشتوالي لـه املـه اړ دي چې هره ورځ د سهار لـه ملا بانګ سره سم لـه کوره راووځـي او د شپې ناوخته د سړکونو په سر په دې هيله ولاړ وي چې ګواکې څوک به ترې کريډټ کـارت راونيسي او يـو څـه ناڅـه د کور د اړتياوو چاره به يي پرې وشي. کارت پلورونکي چې اکثر ځوانـان دي او د کـار لپـاره خـاص او معين ځـای نلري نو مجبور دي چې په ژمي او اوړي کې د سړك په غاړه ودريږي. د کابل ښـار ککړه هوا تنفس کړي. دوي سهار وختي کار ته راځي او ځيني د شپې تر ۱۲ بجې د سړك په غاړه ولاړ وي. ځينـي وخـت بـاران او تـر واوري لاندې ناست وي او انتظار لري چې يو څوك پيدا شي او يو کارټ واخلي.

د کوټه سنګي په څلور لارې کې يو ۲۳ کلن ځوان چې په لاس کې يـې د موبايل کـارتونو بنډل و او يـو او بل موټر پسي ځغليده، داسی وايی، چې ناچـاری دې کـار تـه اړويستلی دی: « زمـا نـوم عطـاالله او د کابـل د دوغ آباد سيمي اوسيدونکی يم، پولس کسيزه کورنۍ لرم او د کور سر سړی زه په خپله يم، نور کوم کسب روزګـار نـه پوهيږم، نو زه مجبور يم، چې د سهار له ملا بانګ سره له کوره ووځم او شپې تر لس بجی پوری د سړک پر سر موبايل کارتونه وپلورم».هغه زيـاتوي، «کـه د دولت لخوا ورتـه د کـار زمينـه برابـره شـي، لومړی دا چـې د خپلـې کورنۍ اړتياوو ته ورسيږي او په دوهم قدم کې به يې د ده اولادونه يی د ټولنې د اوږو بار لامل ونه ګرځي».

دغه شان د کابل په ده افغانانو سيمه کي ۳۴ کلن غلام فاروق چي موبايل کارتونه يي په لاس کي وو او بل لوري ته په موټرو پسي منډې وهي وايي: «اوس خو غنيمت دی، ځکه چي هوا توده ده، په ژمي کي هم د کار د نشتوالي له امله مجبور يو سهار په خړه له کوره ووځو او دشپې تر ناوخته، څو يو مقدار پيسي ترلاسه او د کور اړتياوې پرې پوره کړو».

هغه وويل، چي دی په کسب او روزګار هم پوهيږي، خو اقتصاد يي دا اجازه نه ورکوي چي خپل کسب ته ادامه ورکړي: زه نالوسته يم، خو د کسب خاوند يم، زه کولی شم له هوا او روانو اوبو څخه بريښنا جوړه کړم، خو له بده مرغه زما اقتصاد په هيڅ حساب دی او هيڅګ خګوك راسره هم مرسته نه اولادونه يی د ټولني د اوږو بار لامل ونه ګرځي».

دغه شان د کابل په ده افغانانو سيمه کي ۳۴ کلن غلام فاروق چي موبايل کارتونه يي په لاس کي يو او بل لوري ته په موټرو پسي منډې وهي وايي: «اوس خو غنيمت دی، ځکه چي هوا توده ده، په ژمي کي هم د کار د نشتوالي له امله مجبور يو سهار په خړه له کوره ووځو او دشپې تر ناوخته، څو يو مقدار پيسي ترلاسه او د کور اړتياوې پرې پوره کړو».

هغه وويل، چي دی په کسب او روزګار هم پوهيږي، خو اقتصاد يي دا اجازه نه ورکوي چي خپل کسب ته ادامه ورکړي: زه نالوسته يم، خو د کسب خاوند يم، زه کولی شم له هوا او روانو اوبو څخه بريښنا جوړه کړم، خو له بده مرغه زما اقتصاد په هيڅ حساب دی او هيڅ څوك راسره هم مرسته نه چي خپل دغه کسب ته ادامه ورکړم.

کارت پلورونکی کومه هيله له دولت او موسسی څخه نه لری. ځکه دوی پوهيږي چه دا دولت او دا موسسات د بهرنيو لاسونه ته ګوری او په فساد ککړ دی. دوی دا اټکل کوی که خارجيان، دولت او انجوګانی د افغانستان د زيارکښانو په غم کی وای نو دومره زيارايستونکو اړ نه وو چی بهر ته وتښتي او خپل توان او طاقت د نور په خدمت کی پريږدي .